# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

afgazad@gmail.com www.afgazad.com

| مسایل ایدولوژیک | Ideological |
|---|---|



درویش وردک


۰۴ می ۲۰۱۶

## اوه دیرشم مجلس (دناروغانو په عیادت کی)

دجمعی په ورځ سهار د ۵۴۵ هجری قمری کال درجب په پنځمه ، شیخ عبدالقادر(رضی الله تعالی عنه) په مدرسه کی داسی وفرمایل: پیغمبراکرم(صلی الله علیه وسلم) فرمایلی: (عُودُوا الْمَرضی وَشیعُوا الجَنائِزَ فَأِنَّهُ یُذْکِّرُوکُم الْآخِرَةَ)-«دناروغانوڅخه کتنه وکړی، اودجنازی په ښخولوکی برخه واخلی، ځکه چی تاسو دآخرت په یاد کی اچوی».درسول اکرم(صلی الله علیه وسلم) مقصود دادی چی تاسو آخرت په یاد ولری، ځکه تاسو له هغی څخه په تیښته کی یاست اوپه حاضره دنیا موزړه ترلی.ډیرژربه ستاسو اودنیا ترمنځ فاصله ایجاد شی اوپرته له دی چی تاسو خپله وغواړی هغه څه چی ورسره مینه کوی، له لاسه ورکړی. دهوساینی اوراحت پرځای چی پکی وی، په رنځ اوزحمت به تاسوته مخه کړی. ای غافله ، ای بی خبره، ویښ شه، ته یوازی ددی دنیا لپاره نه یی خلق شوی، بلکه ستا آفرینش دآخرت دزیرمی لپاره دی. ای غافله ټول هم اوغم دی یوازی دشهواتوپه مزو، اوددنیا دمال په ټولو لګولی دی، اوپه لهولوبو آخته یی. که یوناصح تا دمرګ اوآخرت څخه خبرکړی، نووایی: زما ژوند دی راته تیاره کړ، اودسرټکونی لپاره ورته سرخوځوی. پوه شه چی پرسراومخ دی سپین ویښتان ستا دبوډاتوب اومرګ نبنه ده، ولی ته هغه سمبالوی اویایی درنګ پوسیله توره وی، ولی کله چی دی اځل راورسید، له هغه سره څه کولاشی؟ کله چی دمرګ فرشته درپسی راځی، په کومه وسیله هغه دفع کوی؟ کله چی دی روزی ختمه شوه اوژوند دی هم پای ته ورسید، له کوم نیرنګ څخه استفاده کوی؟ دا هوا اوهوسونه له زړه وباسه، دنیا په کاراوکوشش سره بناء شوی، هرکله که دکاروکړ، نومزد به ترلاسه کړی، اوکه بیکاره پاته شوی نوکوم مزد به ترلاسه نکړی.

دنیاداعمالو اوپرآفاتودصبرځای دی، دنیا درنځ اوعذاب ځای دی، اوآخرت دراحت مکان دی. مومن ددنیا درنځ تحمل کوی، اوپه آخرت کی هوساینی ته رسیږی. ولی تا په دی آنی لذایذو زړه ترلی، اودتوبی په ترسره کولو کی کوتاهی کوی، هغه له یوی ورځی وبلی ته ، له یومیاشتی وبلی ته اوله یوه کاله بل کاله ته موکول کوی، ترڅو چی ددژوندانه مدت پای ته ورسیږی.پوه شه چی ډیرژربه پښیمانه شی. آخرته څرنګه نصیحت منی؟ څرنګه دغفلت له دی خوبه راویښ کیږی؟ کله دناصحانو خبری تصدیق کوی؟

وای پرتا! دکوربام دی نړیدلی، ای مغروره دخونی دیوالونه دخراب شوی، په یقین سره داکورچی پکی هوسا یی، وران به شی. پس هغه په بل کوربدل کړه، دآخرت کورآبادکړه اوپښه ورننباسه. داکومه پښه ده چی دآخرت په دارکی پاته

شی؟  هغه دصالحه اعمالو پښه ده چی باید دآخرت په کورکی کښیښوله شی. ددنیا له ماله دآخرت زاد تهیه کړه،  ترڅو دبدلون په وخت هغه ومومی. دغفلت له دی خوبه راویښ شه، دنیا له زړه وباسه، ترڅو دآخرت مِهرپکی ځای ونیسی، اوهلته قرب دی چی خدای درته ږغ کوی، اودزړه روڼتوب درته حاصلیږی.

(ای دخدای بنده)هرکله که دی زړه پاک شو، خدای، ملائکی اودعلم خاوندان به ستا په ریښتینوالی ګواهی ورکړی. په دی منځ کی به دهغه غره په شان شی چی له باداوباران اودحوادثوڅخه ورته کوم زیان نه رسیږی، اوهیڅ وسله دهغی په له منځه وړلو قادره نده. اوداسی به شی چی دخلکو سره آمیزش به هیڅ خدشه ستا په زړه کی پیدانکړی، اویایی صفا په تیاره بدله کړی.

(ای قومه) هرڅاچی کوم عمل ترسره کړ اوپه هغی کی یی دخلکورضا ءپه سترګوکی وه، هغه یو فراری بنده، دخدای دښمن،دده پرنعمتونو کافر اوترنظره یی منفوره دی. پوه اوسه چی خلک درڅخه زړه ، دین اوبرکتونه اخلی، اودخدای له یاده دی غافلوی. دوی تا دځان لپاره غواړی،نه ستاسره دمینی لپاره. ولی عزّ وجلّ خدای یوازی ستا خیرغواړی اوبس. پس هغه چی ستا خیرغواړی طلب کړه اوپه یاد کی یی اوسه. که دی اِرتیادرلوده له خدایه یی وغواړه نه دخدای له خلق څخه، ځکه هرهغه څوک چی خپل حاجت له خلکو وغواړی دخدای په نظردقهراوغضب وړدی. فریاد رسی له خدایه وغواړه، ځکه چی خدای غنی دی اونورمخلوقات فقیر.(هوکی) پرته له خدایه څوک قادره ندی چی درته سود اوزیان ورسوی. دخدای ددوستی طلب وکړه. دکارپه پیل کی ته مرید یی اوغوښتونکی. اوچی دخدای حب دی په زړه کی ځای شو، هغه وخت هغه تاغواړی اوطلب دی کوی. ماشوم په ماشومتوب کی دموږپه لټه دی، ولی هرکله چی لوی شو ،نوموردده په طلب کی ده. هرکله که متعال خدای ستا دارادی صدق ولید، نودرحمت په سترګوبه درته وګوری. کله چی ددوستی ریښتینوالی په تاکی ولیدل شی، تابه دخپلو دوستانو له ډلی وګرځوی.

څرنګه درستګاری هیله لری، پداسی حال کی چی دشهوت اودنفس دهوالاسونه دی په زړه ایښی؟  دالاسونه دزړه له سترګولیری کړه، ترڅوهرڅه څرنګه چی دی، ووینی. دنفس دمخالفت لاسونه له ځانه لنډ کړه. ددرونی شیطان اوهوی لاس قطع کړه، ترڅو ستا اوپروردګارترمنځ حجابونه لیری شی، اوهغه وخت به خپل عیبونه ووینی، اودهغوی په ترک به پیل وکړی، اوهمدارنګه دنورو نقایص به هم وګوری او ورڅخه ډډه به وکړی، دی منزل ته په رسیدوبه عزّوجلّ خدای په خپل قرب سره نائل کړی،  اوپه خپلو خاصو نعمتونو به دی منعم کړی،  داسی نعمتونه چی نه سترګو لیدلی اونه غوږو اوریدلی، اونه دچا په خاطر کی ګرځیدلی دی. سترګی اوغوږونه به دی بینا اوشنوا کړی، اوپه نوروخلکو به معنوی فرمانبرداری درکړی، اوپه باطنی اسرارو به دی آګاه کړی.

 (ای دخدای بنده) ددی مقام طلب وکړه، اوهغه په ټول زیارترلاسه کړه، ددنیا له اشتغاله ځان فارغ کړه، ځکه دنیا تا نه موړکوی، خدای ته وګوره، چی ستا موړتوب دده دقرب ترڅنګ ممکن دی، اودا هغه حال دی چی له دنیا اوآخرت څخه به بی نیازه شی. ای غافله ،هغه چی له تا بیزاره دی، له ځانه وشړه اوهغه چی ستا خیرغوښتونکی دی، په طلب کی یی اوسه. پرهرڅا چی ګران یی، ګران وګڼه. دهغه چا دیدارته لیواله اوسه چی ستا دديدارغوښتونکی دی. آیا دعزّوجلّ خدای قول دی ندی آوریدلی چی فرمایلی یی دی: (يُحِبُّهُم وَيَحِبُّونَهُ)-« پردوی خدای ګران دی اومتعال خدای هم دخپلو صالحو بندګانو لیدوته تردوی ډیرلیواله دی».

ته دعبادت لپاره خلق شوی یی، نه دلهواولعب لوبولپاره، دخدای په یاداوسه ،نه دبل په یاد. دخدای پرځای بل په دوستی مه نیسه، ولی انسان دوستی داجتماعی مهراومحبت لپاره اودهمنوعودرأفت لپاره پسندیده (غوره) ده،  ولی انسان دوستی دخدای دحب په حد کی اودنوروستاینه ددنیا دترلاسه کولو لپاره، ناوړه اوکرغیړنه ده. آدم علیه السّلام دجنت سره دحب په علت دښوئیدنی سره مخ شواودممنوعه میوی څخه یی وخوړل، اوله جنت څخه جلاشو، اوکله یی چی په حوا زړه

وتاړه دده اوحواترمنځ د دری سوو کلونو لاری واټن رامنځ ته شو، هغه په سرندیب کی پاته شو اوحوا جدی ته لاړه. یعقوب علیه السلام کله چی په یوسف علیه السلام زړه وتاړه، خدای پاک دوی سره جلا کړل. پس په عزّوجلّ خدای پسی شه اوپرته دده داقدس ذات څخه په بل چا زړه مه تړه، خلق دزړه دباندی وساته، اوخدای پاک په دننه کی وساته.

ای تنبله، ای بیکاره، که زما دانصیحتونه ومنی اوعمل پری وکړی، پوه شه چی ګټه به یی تاته متوجه شی، اوکه یی ونه منی اوعمل ونکړی،دخدای دقهراوخشم سره به مخ شی. خدای پاک فرمایلی: (**اِنْ اَحْسَنْتُمْ اَحْسَنْتُم لِاَنْفُسِكُمْ،وَاِنْ اَسَاْتُم فَلَها**)-« که موښه وکړل له خپل نفس سره موکړه، اوکه موبد وکړل دخپل نفس له ژبی سره موکړی. سوره اسراء آیه ۷». اوبیایی فرمایلی: (**أَطْعِمُوا طَعَآمَكُمُ الْاَتْقِياءَ وَأَعْطُوا خِرَقَكُم لِلْموْ مِنِينَ**)-« له خپلوخوړوڅخه په پرهیزګارانو هم وخوری، اوله خپلو جامو مومنینو ته هم واغوندی». هرکله که دی دخپلو خوړوڅخه متقی سړی هم برخمن کړ، دده په نیکوکړوکی به ته هم شریک شی، څکه تا دهغه نیکواعمالو په ترسره کولو کی ورسره مرسته کړی، اوخواړه دی ورکړی، پوه شه چی دده په ناوړه کړو کی هم شریک یی، څکه دبدیو په ترسره کولوکی دی ورسره مرسته کړی.

ای جاهله، علم زده کړه، څکه پرته له علمه په عبادت کی برکت نشته، اوپه یقین کی پرته له خبرتیا خیرشتون نلری. علم زده کړه اوعمل پری وکړه، ترڅو په دنیا اوعقبی کی رستګاره شی. هرکله که دعلم په تحصیل اوپه عمل کړو دی صبرنه درلود، څرنګه درستګاری هیله لری؟ که دعلم په زده کړه کی خپل ټول هم وکاروی نوبیوی برخی ته به یی لاس رسی ومومی. دعلماو څخه له یوه وپوښتل شول، څرنګه دی داعلم ترلاسه کړ؟ وویل: دکلاغ په سحرخیزی، داوښ په صبر، دخوک په حرص، اودسپی په چاپلوسی. داوښ په څیر چی درانده بارونه وړی ،صبرمی وکړ، اودخوک په څیرچی خوراک ته طمعه کوی، په علم پسی حریص وم، اودسپی په څیرچی خاوند ته تملق کوی، خپلواستادانوته می تملق وکړ اوفروتنه وم. ای طالب العلمه، ددی دانشمند خبری واوره، که دعلم قصد دی کړی وی. علم حیات دی اوجهل مرګ. عالم چی په خپل علم عمل وکړی، اودحق درضا دجلب لپاره هغه نوروته ورزده کړی، دهغه لپاره مرګ نشته، څکه چی کله مړشو،نولقاءالله ته به وصل شی، اوخپل معنوی ژوند ته به ادامه ورکوی.

لویه خدایه، دعمل اواخلاص سره علم زمونږنصیب وګرځوی.

**«ربنا آتنا فی الدنیا حسنه وفی الاخرة حسنه وقنا عذاب النار»آمین.**